# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



By: Dr. Rahmat Rabi Zirakyar :ډاکتر رحمت ربی ځیرکیار


۳۱ اکتوبر ۲۰۱۵

# ملـي ګـټـې: د یـو ژور بـحـث لپاره

۳

*National Interests: For A Thorough Discussion*

**دولتونه د انسانانو په تکل جوړشوي دي**

د دولتونو د تاریخ په اوږدو کې، پخپله هغوی له خپل ځان نه بل لوړ مقام نه دی منلی. له همدې امله دولت هغه موجود دی چي خپلې ګټې پخپله تعریفوي، او پخپله ټاکي چي څنګه د خپلو ملي ګټو خاوند شي. په دې ډول د دولت ګټې په ملي ګټو اوړي، او هغه طریقه چي څنګه خپلې ملي ګټې خوندي کړي «ملي پالیسي» (ملي تګلار) ورته ویل کیږي. دولتونه د قدرت ممثل دي، توپیر نـه لـري چي کپیټلیستي، کمونیستي، عیسوي، دموکراتیک، سوشل دموکراتیک، فـاشیستي...یا اسلامي وي. لـه بدې مرغې له همدې امله د ملي ګټو مفهوم هم په غټه کچه مبهم دی: په دولت کې څوک ملي ګټې ټاکي؟ که حکومتونه په زور یا په سوله بیز ډول بدلیږي، نو ملي ګټو ته څه پیښیږي؟ په دولت کې کومه ډله یا ډلې د دولت دوست او غلیم تشخیصوي؟ د ملي ګټو او ملي پالیسی په اکله د چا نظر ملي دی او اهمیت لري؟ په ملي ګټو کې ورځنۍ ګټې مهمې دي که د اوږده ډګر ګټې؟ دغه ډول پوښتنو ته روغ جواب ورکول د دولتونو د مشرانو په پـوهه، صداقـت، تجربه، د چارپوهانو سره په مشوره، د ملي تګلارې په لرلو ... او په مناسبه موقع کې د هغوی په زړه ورتیا او ابـتـکار پـورې اړه لـري

د امریکې د متحدو ایالتونو یو مفکر مؤسس تامس جفرسن(۱۷۴۳-۱۸۲۶) چي په ۱۷۷۶ کې یې د «خپلواکۍ اعلامیه» لیکلې وه اود خپل ځوان هیواد دریم ولسمشر(۱۸۰۱-۱۸۰۹) و، فرانسویان پرې ګران وو او په خپل هیواد کې د قوي مـرکـزي حکومت په ضد و. خو د دې خبر په اوریدلو سره چي فرانسوي واکمن ناپلیون (۱۸۲۱-۱۷۶۹)غـواړي د امریکې د خـاوري یـوه بـرخه ( نیـواورلینـز) ونیسي، جفرسن ورته په ډاګه کړه چي امریکه دغه ډول اقدام «طبعاً او معمولاً غلیمي» ګڼي. جفرسن سم د لاسه د خپل مرکزي حکومت قدرت ارت کړ او نه یواځې «نیـواورلینـز» بلکې د لوئیزیانا ټوله سیمه یې راونیوله. نهه کالونه وروسته، د فرانسي ملي ګټـو ناپلیون دیته وهڅاوه چي په روسیه برید وکړي. خو برید یې په غټه بَخوله (فاجعه) واوښت. د امریکې ولسمشر جیمي کارتر (-۱۹۸۱ ۱۹۷۷) د پخواني شوروي اتحاد سره په «سَلټ ۲» تړون کې(د ستراتجیک وسلو د محدودولو خبرې) د امریکې ملي

ګټي خوندي کړي وي. خو ورپسې ولسمشر رانالډ ریګن(۱۹۸۱-۱۹۸۹) بل شان فکر لرلو: د پاکستان د نظارت لاندې یې د افغان مجاهدینو سره مالي او عسکري مرستې وکړې. د زبرځواک شوروي اتحاد پوځ په ۱۹۸۹کې د حیرتان له پُل نه سرخوړی وویستل شو او د المان «ډیورند لاین» یعني د برلین دیوال رانسکور شو. خو پخپله افغان ملت ته یکې لا تر اوسه په غیر له جنګ نه بل څه ونه رسیدل! د دغه عملیاتو په پایله کې، شوروي اتحاد رسماً په ۱۹۹۱ کې رانسکور شو. د مصر ولسمشر انور سادات (۱۹۷۰تر۱۹۸۱) د اسرائیلو سره په رابطه کې د مصر ملي ګټې لیدلې. خو ځینې مصریانو چې نومورې یې وواژه، د دغې مفکورې سره ټکر لاره.

په افغانستان کې په ۱۹۷۳(۱۳۵۲لمریز) لومړی ځل جمهوریت راغی، خو امریکې د نوي رژیم سره کومه ځانګړې علاقه څرګنده نکړه. پاکستان او ایران دواړه د امریکې ملګري وو، په افغانستان کې د جمهوري نظام په ضد وو، او په دې لټه کې وو چې د کودتا له لارې نوی جمهوري نظام رانسکور کړي. هم مهال شوروي اتحاد د ایران او خلیج د هیوادونو سره د محّمد داوود خان د اقتصادي او تخنیکي اړیکو له را منځته کولو نه اندیښنه لرله ځکه چې دغه هیوادونه د امریکې په عسکري تړلواله کې ولاړ وو. محّمد داوود د شوروي په بلنه د ۱۹۷۷ په اپریل کې مسکو ته سفروکړ( ۱۲-۱۵). شوروي واکمن لیئونید بریژنف د سفر په دوهمه ورځ ولسمشرمحّمد داوود ته وویل چې د افغانستان په شمال کې د ناټو د پکټ د هیوادونو چارپوهان په پروژو لګیا دي او هلته د امپریالیزم لپاره په جاسوسۍ اخته دي، نو باید چې له دغو سیمو نه وویستل شي. ولسمشرمحّمد داوودخان داسې ځواب ورکړ: څه چې د شوروي مشر وویل، هیڅکله د افغانانو لپاره د منلو وړ نه ده. د افغانانو له نظره دغه وینا د افغانستان په داخلي چارو کې څرګنده لاس وهنه ده. ډاکتر محّمد حسن شرق وایي چې بریژنف ته د داوودخان وینا یې په یاد ده:« موږ به هیڅکله تاسې ته اجازه ورنکړو چې په موږ امر[ډیکته] وکړئ. دا چې بهرني چارپوهان په څه ډول او چیرې په کار واچوو، انحصاراً او کاملاً د افغانستان د دولت حق دی. که لازمه وي افغانستان به فقیر پاتې شي، خو په خپل عمل او پریکړه کې به خپله خپلواکي وساتي.»- دوکتور محّمدحسن شرق، تأسیس و تخریب اولین جمهوری افغانستان. چاپ سوم، کلیفورنیا: ۲۶ سرطان ۱۳۸۹ هجري لمریز= ۲۶ جولای ۲۰۱۰ ،مخ ۲۳۳

پاناګیوتیس دیمیتراکیس خپله ډاکتري د جنګ په مطالعاتو کې، لـه کینګ کالج لندن نه لاسته راوړې ده. د ډاکتر عزیز دا لنډه او اغیزمنه لیکنه د یوناني تاریخپوه ډاکتر دیمیتراکیس په کتاب را څرخي چې په ۲۰۱۳ کې خپورشوی و: په افغانستان باندې له شوروي یرغل نه (دسمبر ۱۹۷۹) راولاړه شوې جګړه، د ساړه جنګ د کړکیچ یوه خورا وینې تویوونکې بیلګه وه. په ۱۹۸۹ کې د برلین د دیوال له رانسکوریدلو او په ۱۹۹۱ کې د شوروي اتحاد له منځه تللو نه وروسته، پخوا پټ ساتل شوي استخباراتي شواهد ورو په ورو د څیړونکو د قلم نوکې ته راورسیدل. د دیمتراکیس په کتاب کې د امریکې، برتانیې او شوروي اتحاد پټې تعلقات او عملیات را په ډاګه شول او د سي. آي. أي. سره د ولسي چین د وسلو خرڅولو او د افغانستان د مجاهدینو د وسله وال کولو معاملې راو سپړل شوې. ولسي چین چې د شوروي اتحاد سره یې ټکر لاره، د افغانستان د مجاهدینو په ملاتړ کې ودرید: د ولسي چین په لویدیز کې میشت د «یوغور» مسلمانان به یې د واخان د کوتل له لارې افغانستان ته لیږل

Panagiotis Dimitrakis, The Secret War in Afghanistan: The Soviet Unon, China and Anglo-American Intelligence in the Afghan War. I.B. Tauris, 2013

د غټو قدرتونو ملي ګټي نه يواځي د خپلوهيوادونو په دننه کي وي، بلکي په نورو هيوادونوکي هم تعقيبيږي. په ۱۹۵۳ کي د شوروي اتحاد مشر جوزيف ستالين هلته مړ شو او ځای يي نکيتا خروسچف ونيو (۱۹۵۳-۱۹۶۴). نوموړي د ستالين په اندازه له زورزياتـي نه ډډه وکړه. پـه ۱۹۵۶کي د هنګري ولس دشوروي نظام په ضد پاڅون وکړ. د هغه مهال د امريکي ولسمشر جنرال آيزنهاور(۱۹۵۳ تر۱۹۶۱) او نورو ليديزوالو د هنګري د ولس پاڅون په اخلاقي لحاظ مشروع وګڼه. خو آيزنهاور پوهيده چي هلته د شوروي اتحاد د قدرت په مقابل کي نشي بريالی کيدلی اوله دي امله يي مداخله بي ګټي وګڼله. په ۱۹۶۲ کي شوروي اتحاد په کيوبا کي چي نږدې ۹۰ ميله (۱۴۵ کيلومتره) د امريکي له سياسي پولي نه لري ده، خپل توغندي ځای په ځای کړي وو. دې کار نړۍ له سړې جګړې نه تودې جګړې او د اتومي جګړې غاړې ته نږدې کړه. د امريکي ولسمشر جان کنيډی (جنوري ۱۹۶۱تر نومبر ۱۹۶۳) د جنګي بيړيو له لارې د کوبا د محاصرې امر ورکړ. خو د ۱۹۶۲ د اکتوبر په ۲۸، د شوروي اتحاد مشر نکيتا خروسچف له کيوبا نه د اتومي توغنديو د ويستلو امر ورکړ او بالمقابل امريکي هم په پټ ډوول ژمنه وکړه چي خپل مينځکوره(متوسط) اتومي توغندي به له ترکيي نه وباسي او په کيوبا به يرغل ونکړي. په دې ډول دغه خطرناک بحران په ۱۳ ورځو کي پای ته ورسيد. دواړو خواو دغه بحران د خپلو ملي ګټو لپاره رامنځته کړی و او پای ته يي ورساوه. ولولی

Graham T. Allison and Philip Zelikow, Essence of Decision: Explaining Cuban Missile Crisis. New York: Longman, 1999; Michael Dobbs, One Minute to Midnight: Kennedy, Khrushchev, and Castro on the Brink of Nuclear War. Vintage; Reprint edition: June 20009; Aleksandr Fursenko and Timothy Naftali, One Hell of a Gamble: Khrushchev, Castro, and Kennedy, 1958-1964 The Secret History of the Cuban Missile Crisis. W.W. Norton and Company (Paperback: August 1998)

د فورسينکو او نافتالي په کتاب کي د شوروي اتحاد د ارشيفونو مواد کارول شوي دي. د ۲۰۱۵ په اګست کي د امريکي او کيوبا اړيکي مخ په عادي کيدلو شوې

په ۱۹۸۲ کي په فَـالکلنډ جزيـروباندې د برتانيي او ارجنټاين حقوقي تاوتريخوالی راولاړ شواو د ارجنټاين له خوا ونيول شوې. فالکلنډ له ګڼ شمير جزيرو نه جوړ شوی دی. ارتوالی يي ۲۷۰۰ ميل مربع (۱۲۰۰۰کيلو ميتر مـربع) دی او نفوس يي په ۲۰۱۲ کي نږدې دري زره (۲۹۳۲) تنه و. انګريزي ژبه پکي مروجه وه. د فالکلنډ په اړه بحران د برتانيي او ارجنټاين هيوادونو له خوا رامنځته شو. د دغه کړکيچ په مهال يي (۱۹۸۲)نفوس ۱۸۰۰ اټکل شوی و، او ۷۵۰۰۰۰پسونه يي لـرل. برتانيي په فَـالکلـنډ جزيرو باندې د ارجنټاين بـريد، د خپل اعتبار او ملي ګټـو سپکـاوی و ګڼـه. د شپيته (۶۰) بيړيـو رمه يي د ارجنټاين په ضد ورخوشي کړه او مقابل اړخ ته يي ماتي ورکړه.( زه ځيرکيار د ۱۹۸۰په دسمبر کي امريکي ته کډوال شوی وم. د فالکليند د جزيرو کړکيچ ماته د برتاني له خوا په ۱۸۹۳ کي په افغانستان ورتپل شوي ډيورنډ ترون را په زړه کړ). د فالکلنډ د جزيرو د کړکيچ په اړه په ۱۹۸۲ کي د لندن ادعا دا وه چي دغه جزيرې په تيرو ۱۴۹ کالونو کي د برتانيي په پرله پسي تسلط کي پرتي وې. په قانون لحاظ دا يوه اغيـزمنه ادعا وه. خو که تاريخ ته کتنه وشي، نو بيا خو د فـالکليـنډ جزيرې له ۱۸۳۳ وړاندي د اوږدې مودې لپاره د «ريو ديلاپلاته د متحدو ولايتونو» په ولکه کي وې چي وروسته د ارجنټااين، پراګوای، يوروګوای او د بـوليـويا يوه برخه شوې. په ۱۹۸۳ کي برتانيي يو قانون راوويست چي د فـالکلنډ د جزيرو اوسيدونکي يي برتانوي هيواد والان (اتباع) اعـلان کـړل او په دې ډول يي خپل قـدرت او اعـتبار نـړۍ ته وښود. ولولی

Julius Goebel, The Struggle for the Falkland Islands: A Study in Legal and Diplomatic History. Yale University Press, 1982; Max Hastings and Simon Jenkins, The Battle of Falklands. W.W. Norton & Company 1984.

راتلونکي شل کالونه به په ښایسته ښه کچه وښئ چي جیوپالیتیکس (د جغرافیې او سیا ست اړیکمنتیا) او د سیاسي ملتونو (نیشن- سټیټس) ګټیدل په څومره اندازه د جیو-ایکنامیکس ( د جغرافیې او اقتصاد اړیکمنتیا) او د نړیوال کیدلو د عملیې سره تطابق کولی شي. په نسبي ډول دولتونه بدلیږي، یعني تلپاتي نه دي. د بیلګې په ډول شوروي اتحاد/شوروي روسیه، په افغانستان کې شاهي دولت/جمهوري دولت/ د خلکو دموکرتیک جمهوریت/ د افغانستان اسلامي امارت، او د امریکې له یرغل راهیسي د افغانستان اسلامي جمهوریت. په شلمه پیړۍ کې د خپلواکو دولتونو شمیر ګڼ شو. لومړۍ نړیوالي جګړې د تزاري روسیې، اتریش- هنګري، او عثماني امپراتوریو کډې ور وتړلې. دوهمي نړایووالي جګړې د لویدیزې اروپا د امپراتوریو زور اوبه کړ. نړۍ په ۱۹۴۵ کې ۶۴ خپلواک دولتونه لرل. ۳۵ کالونه وروسته په ۱۹۸۰ کې دغه شمیر ۱۶۵ ته جګ شو. په ۱۹۹۱ کې د ملګرو ملتونو په سازمان کې ۱۶۶دولتونو غړیتوب لاره. په ۱۹۹۷ کې یې شمیر ۱۸۵ ته جګ شو. په جولای ۲۰۱۱ کې ۱۹۵ دولتونه د ملګرو ملتونو د سازمان غړي وو. د ملګرو ملتون د اټکل له مخې به په ۲۰۲۵ کې په نړۍ کې نږدې پینځه سوه(۵۰۰) خپلواک دولتونه موجود وي. ولولی

Charles K. Kigley Jr. Eugene R. Wittkopf, World Politics. 7th ed. St. Martin's/Wor, 1999. p. 373

دولتونه که رسماً په اتحاد کې را غونډ شوي هم وي(لکه په اروپایي اتحاد کې)، د بودجې په مذاکرو کې د ملي ګټو پام ساتي. ولولی

Mojmir Mrak and Vasja Rant, Financial Perspective 2007-2013: Domination of National Interests[9 September 2015].

په بین المللي سیاست کې دولتونه لوبغاړي دي. خو په واقیعیت کې انسانان لوبغاړي دي څکه چي د دولتونو پریکړې تنظیموي او په بین المللي چاپیریال کې عمل او عکس العمل ښئ. وګړي د ملي ګټو مفهوم تشخیصوي او تعریفوي، نه مجرد موجود (دولت). په ساده وینا، دولت یوې لاسپیلې (دست کشی) ته ورته دی چي لاس (حکومت) پکې خوځیږي. په اوسنۍ مخ په غټیدونکي نوې نړۍ کې د بین الدول معاملو تنوع، پیچلتیا او حجم حکومتونه دېته اړ کوي چي له ټکنالوجۍ او چارپوهانو نه کار واخلي. بهرنی سیاست یوه ستراتیجي ده، یعني د حکومت د پریکړه کوونکو د عملیاتو پلان شوی کورس دی چي د نورو هیوادونو یا بین المللي موسسو په چاپیریال کې یې د خپلو ګټو (ملي ګټو) د خوندي کولو لپاره کاروي. عموماً غټ یا قوي هیوادونه د دې غټه تومنه(ظرفیت) لري چي خپلې پلان شوې موخې (هدف )ته ورسیږي

که یو دولت خپل بهرنی سیاست یواځې په خپلو ملي ګټو راڅرخوي او د نړۍ والو د اخلاقي ضوابطو خیال پکې نه ساتي، په سیاسي ادبیاتو کې ورته «واقعي» سیاست ویل کیږي. دغه ډول واقعي سیاست د غوره (کمال مطلوب) بهرني سیاست سره په ټکر کې وي. د هیوادونو ملي ګټې په انتزاعي یا ارماني موخو راچاپیره وي لکه د ځان ساتنه/امنیت، ملي مفکوره، د قدرت تعقیب، خپلواکي، د خاورې بشپړتیا، عسکري امنیت، اقتصادي سهولت، او اعتبار. دا چي یو هیواد ځانګړې ملي ګټه نلري، دغه تفکر یا مفهوم د زیات دقت له امله د جمعي (پلورَل) په شکل مناسب دی: ملي ګټې! په دولتي نظام کې هر دولت په دې هڅه کې دی چي خپلې ملي ګټې غښتلې کړي. کله چي د

دولـتونـو ملي ګـټـې هـمغږې وي، مـوافقې ته رسيږي. خو که ملـي ګټي يـې د يـو بل سره په ټکر کې وي، سيالي، ويـره او کړکيـچ رامنځته کيږي چې پـه خـپل وارسـره جګـړې تـه بـوزي وهـي. ملګري ملتونه ، بين المللي سره مياشت، د ژنيـو تړونونه، او نړۍ وال بانک هغه موسسې دي چې يو ډول بين المليت او بشر دوستي ‌ پکې غلي شوي دي- په ځانګړي ډول د دوهـمې نـړۍ والي جګړې لـه پـای (۱۹۴۵) راهيسې

دولتونه د زور لوښي دي. د خپلې رامنځته کيدنې د تاريخ په اوږدو کې دولتونو ټـول ټال له خپل ځان نه بل لوړ مقام نه دی منلی. له دې امله دولت هغه موجود دی چې خپلې ګټې پخپله تعريفوي او پخپلـه ټـاکي چې څنګـه د دغـو (ملي ګټو) خاونـد شي. په دې ډول، د دولت ګټې ملي ګټې کيږي، او هغه لار يا طريقه چې يو دولت څنګه خپلې ملي ګټې خوندي کړي «ملي پاليسي» (ملي تـګـلاره) ورته ويل کـيـږي. دولتونه د قـدرت ممـثل دي، تـوپـيـر نـلـري چې کپـيټليستي(پـانګه وال)، کمونيستي (اشتراکي)، عيسوي، دموکراتيک، سوشل دموکراتيک (ټولنپال ولسواک)...يا اسـلامي وي. له بدې مرغې له همدې امله د ملي ګټـو مفهوم هم په غټه کچه مبهم دی: په دولت کې څوک ملي ګټې ټاکي؟ که حکومتونه په زور يا په سوله ييز ډول بدليږي، نو ملي ګټو ته څه پيښيږي؟ په دولت کې ګومه ډله يا ډلې د دولت دوست يا غليم تشخيصوي؟ د ملي ګټـو او ملي پـاليسی (تګ لارې) په اړه د چا نظر ملي دی او اهـميت لـري؟ په ملي ګـټو کي ورځنـۍ ګـټي مهمي دي که د اوږده ‌ ډګـر ګټې؟ هـوښيار واکمنان سر بيره په خپلو رسمي چارپـوهانو، له غير رسمي چارپـوهانو نه هم مشوره غواړي. د امريکې د متحدو ايـالتونو واکمنان ( په ۱۹۶۹ کې د ريچـارډ نيکسن د ولسمشرۍ له پيل راهيسې تـر اوسه پـورې)، ډيـر ځلي له جرمن- امريکايي هينري ألفـريـد کيسينجـر او پـولنـډي – امريکايي ‌ زبيګنيو کازيمير بريـژينسکي نه ‌ هم نـظـر غـواړي. برتانوي – امريکايي ليکوال او نـقاد کريستوفـر هيتچـينس (۱۹۴۹-۲۰۱۱) په ‌ ۲۰۰۱ کې په خپل کتاب کې هينري کيسنجـر ‌ په ويتنام، بنګـلاديش، ختيز تيمور، چيلي او قبريس کې د جنګ په جنايتونو متهم کړی دی، ولولئ

Christopher Hitchens, The Trial of Henry Kissinger (2001). Paperback: Twelve; reprint edition: April 2012

کيسينجر په پټ ډول د هغه مهال د لويديز پاکستان (اوسني پاکستان) له لارې ‌ د کمونيستي ‌ چيـن سره تماس نيولی و(۱۹۷۱) او هلته يې ‌ د امريکې د هغه مهال د ولسمشر ريچاډ نيکسن (۱۹۶۹تر ۱۹۷۴) ‌ د ملاقات زمينه برابره کړه. نيکسن په ۱۹۷۲ کې ولسي چين ته سفر وکړ او د ماوتسيتونګ سره يې هم وليدل

نوربيا